استقلال خپلواکی
www.esteqlaal.net

شعر از : قیام
ارسالی: انارګُل خوستی
شنبه ۱٦ مارچ ۲۰۲٤

# مونږ افغانان یو



افغانان یو، افغانیت موږ غُرور دی
هرافغان ته بی غروره ژوند پیغوردی

افغانیت یی هرافغان ته دژوندویاړدی
افغانـیت دهرافغان دژوند، دستوردی

ددی خاوری ټول قومونه افغانان دي
دلته هرقوم دبل قوم سکنی وروردی

داوطن دهرافغان بچي وطن دی
داوطن دافغانانو ګډ ستر کوردی

څوک چی دا وطن په بـل خرڅول غواړي
دا آرمان یی لانیکووړئ تر ګور دی

څوک چی داغیورملت په خیلوویشي

salamwatanam@gmail.com

یادښمن دی،یاد کوم دښمن مزدوردی

افغانانوته اوس خپل دښمن معلوم دی
هردښمن یی دشیطان په څیرمنفور دی

دقومونوترمنځ ټینګ ملی وحدت دی
څوک چی دوی بیلول غواړي،مخ یی توردی

افغانان دهغه چاپه ضد قیام کړي
چا که دوی ته دنفاق راوړئ اور دی

salamwatanam@gmail.com